AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین

مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

پښتو ژباړه: رحمت آریا ۲۰۲۱/۱۱/۱۵

# د افغانستان سیاسی او تأریخی ژورنال

## دویم ټوک

### اته پنځوسمه برخه

## فراه

## او

## د افغانستان سویلي برخې

## تصحیحات

ډاکټر لوډویک . ډبیلو . ادمک

AKADEMISCHE DRUCK –u VERLAGSANSTALT

GRAZ –AUSTRIA
1973

**لودویک آدمک**

**قلعۀ فتح:** ۳۴ – ۳۰، ۵۱ – ۶۱: لوړوالی: ۱۸۲۲ فیټه: د قلعۀ فتح د کلا پراخه او پریمانه ورانۍ او کنډوالې له کرشکه۲۳ نیم مایله کښته د هلمند د سیند پر دواړو غاړو، سیند ته ډېر نـږدې واقع دي او فریر وایي چې دا ورانې ویجاړې کنډوالې په ټول سیستان کې تر ټولو نورو ډېرې او په پراخې سیمې کې پرتې دي. په دغو کنډوالو کې تر ټولو د پام وړ هغه ئې له دیوالونو دباندې د یو ډېر لوی او پراخ کاروان سرای شتون دی چې له سره تر پایه په ۱۱ انچه پخو مربع ډوله خښتو جوړ سوی دی او د معمارۍ د ښکلا داسې یو منظر د سړي سترګو ته ږدي چې د سیستان په هنرونو کې دا ډول هنر د معماري باندنی هنر ښکاري. دا ودانۍ په سرای کې دننه په مرکز کې یوه ډېره لویه قبه لري چې هر ګوټ کي ئـې جناحي ډېې جوړې سوي دي او هره جناح کې څو څو کوټې دي او په بنۍ جناح کې ئـې په بنۍ زاویه کې د پرله پسې غوجلونو (طویلو) لړۍ جوړه سوې ده. دا قبه اوس په ډېر ښـۀ حالت کې ده خو په خپله ودانۍ داسې یو ظاهر لري چې د جوړیدلو چارې ئـې هیڅکله بشپړې سوې نه وي. په کیڼه جناح کې ئې د غوجلو د جوړلو کار نوی پیل سوی وو، حال دا چې د قبـې د سر د جوړولو کار هم نیم کاره پاتې سوی دی.
داسې ښکاري چې ددې ښارګوټي له نیمایي ډېـرۍ برخه سیلاب له ځان سره وړې وي. شمالي او سویلي دیوالونه چې په لویدیځه ډډې کې پای ته رسـېـږي د اوبو د بهیر پر لور پر ځوړ واقع دي او ډېـر تاوان ئـې لیدلی دی. تر هغـۀ وړاندې د سیند ژۍ د سپینو شګو انبار دی او په شګو پسې د لوړو ونو یو ځنګل دی او میتلند ته ویل سوي ول چې دا ځای هغه ځای دی چې یو وخت دغـۀ ښارګوټی تر دې ځایه راغځول سوی وو. که دا رښتیا وي نو د شمال او سویل


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونـه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

دیوالونه باید د ختیځ او لویدیځ ددیوالونو په اندازې وي او په دې سره دا ګومان کولای سو چې دا ښارګوټی د مایل د ثلث په ارتوالي یو مربع شکله ښار وو. فریر د ورانو ویجاړو اټکل کوي او وایي چې دا په ټول سیستان کې د ورانو ویجاړو یوه لویه پراخه سیمه ده نو له دې کبله ده چې میتلند فکر کوي چې دا اټکل ښایي سم اټکل وي ځکه ددې ځای وراني یوازې ۳۱ کاله مخکې سوې وه. پورته مو ځنګل ته نغوته وکړه چې اوس د هلمند سیند د ځنګله له لیرې ډېې څخه تیریږي. په قلعهٔ میر کې له سینده یو کانال کیندل سوی دی چې د سیند په ختیځه ژۍ کې بهېږي، او د یکدست د شیوه ځمکې د بیخ چاپیره ځي او همدا شان ښی خوا ته پر لوړې سطحې باندې قلعهٔ فتح ته ځي. دا کانال ۸ فیټه پلن او ۳ فیټه ژور دی او په دواړو خواوو کې د ۵ فیټو په لوړوالي ورانې سوې غاړې لري.

ددغو ورانیو په هکله د پیکاک شرحه په دې ډول ده: " د سرای په استثناء نور ټول ئې لمر ته په وچو سویو خښتو جوړ سوي دي. سرای یوه ډېره لویه قبه لري چې کار ئې نـهٔ دی بشپړ سوی، او یو ډېر شمېر مقوّس کارونه په کې سوي دي، خو دا ټول سوي کارونه لا تر اوسه په ښـهٔ حالت کې پاتې دي، او له پخو خښتو جوړ سوي دي. له ظواهرو ښکاري چې تر اساسي ښارګوټي ټول د پرله پسې دیوالونو لړۍ راتاو سوي وي او په فواصلو کې ئـې هماغه دودیز برجونه جوړ سوي دي؛ د زړو دیوالونو له ښنو ښکاري چې دغـهٔ ځای مستطیلي بڼه درلوده چې لوی والی ئـې ۱۰۰۰ یارډه په ۵۰۰ یارډه کې دی، اوږدهٔ اضلاع ئـې مخ په سویل او شمال دي. ددې ښار د دیوالونو یوه لویه برخه چې ۳۰ فیټه لوړه ده لا تر اوسه په عالي شکل او حالت کې پاتې دي. سرای ددې ښار په سویل ختیځې زاویې که واقع دی. لویدیځه مخه ئـې سیند له ځان سره وړې ده، له سینده را اوړېدونکي اوبـهٔ به د سویلي ډډې پاتې نوره برخه هم له ځان سره یوسي."

" دلته د خښتو پخولو د بټیو (او یا د یخچالي خونو – د سرد خانو، هره یوه ئـې چې وي) ډېرې پاتې شوني سته؛ په دوی کې یوه ئـې، چې لوی پسور لري د مچیو د ځالی په شان جوړښت لري چې ۴۰ یارډه قطر لري. د زاړهٔ ښارګوټي په ختیځ کې په لوړو شګلونو ښویندو لاښونو کې د بیلابیلو ودانیو بې شمـېـره پاتې شوني دي دغه پاتې شوني اوس د غونډیو بڼه خپله کړې ده او د غونډۍ او د ودانیو د پاتې شونو توپیر اوسمهال ورځخه په هیڅ ډول په دې دلیل نـهٔ سي کـېـدای چې د تهدابونو طبقه بندي او مکرره مقوّس کاري ئـې ورکه سوې ده. د زاړهٔ ښارګوټي په شمال ختیځ کې کې دننه محلت په بله وینا حصار کې دننه یوځي کلا یا استحکامي کلا واقع ده چې په ډېر ښـهٔ حالت کې ده. دا ځای یو بې قاعده لوزي ډوله جوړښت لري چې د یوې خاوریني غونډۍ پر سر جوړ سوی دی؛ دا ځای د همدې ځمکې له مستوي سطحې څخه ۳۰ فیټه لوړ دی. ددې استحکامي کلا دیوالونه د غونډۍ له پاسه عموداً له ۳۵ تر ۶۵ فیټو پورې پورته سوي دي او مورچل کښونه یا تیرکښونه په کې جوړ سوي او ددیوالونو سرونه غاښي غاښي یا کنګره بندي سوي دي او په زوایاوو کې ئـې ګردي یا مدور برجونه جوړ سوي دي چې هماغه دودیزه آسیایي بڼه لري. د غونډۍ په بیخ کې او د غونډۍ په ډډو کې له د باندې له ختو جوړ د دفاعي دیوالونو کرښې د (فیوزبیرۍ[1]) په ډول جوړې سوې دي؛ خو دغه باندې دفاعي دیوالونه د حصار د اصلي دیوالونو په پرتله په چنداني عالي حالت کې نـهٔ دي. په یوځي کلا باندې نسبتاً ښـهٔ کار سوی دی چې د یو ناځاپي برید پر وړاندې به ځواب وویلای سي خو د ختیځې خوا لوړه سطحه ورباندې د توپ د ډز په واټن مسلطه ده. "

[1] - fausebraye د لرغونو مهالونو یوه یوځي اصطلاح ده چې د کلا یا حصار د باندني او دننه محافظتي دیوالونو په بیخونو کې له دیوالونو سره موازي په خاص ډول ډېر د دیوالونو په پای کې ددویم خاکریز یا مورچل په توګه جوړېدل. ما ژباړونکي ورته نـهٔ پښتو نـهٔ دري، نـهٔ فارسي او نـهٔ عربي معادل وموند.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راليږلو مخکې په ځیر و لولـئ

په ۱۸۸۴ز کال کې په قلعهٔ فتح کې هماغسې چې ددې سیمې په نورو ځایونو کې دود دی د شیراني بلوڅانو او نورو بلوخ قومونو او د نورو قومونو او حتی انفرادي کسانو د ترکیب ۴۰۰ کورنیو ژوند کاوهٔ. ددوی لوی مشران محمد شریف خان او د هغه زوی سید خان ول دوی دواړو په همدې حصار یا استحکامي کلا کې ژوند کاوهٔ. محمد شریف خان چې یو ناهوري بلوڅ دی او ددې قومي څانګې میراثي مشر دی کولای سي په لنډ وخت کې لږ تر لږه ۱۰۰۰ تنه نارینه راټول کړي او که اړتیا پیښه سي کولای سي تر یادې شمـېـرې څلور یا پنځه چنده نور کسان هم راټول کړي.

په یاد سوي کال په قلعهٔ فتح کې د پراخې کرنې نښې نښاني لیدل کېدلې؛ خو له ظواهرو داسي ښکاري چې د ملکیتونو بدلونونه (وګورئ سنجرانیان) ددې لامل سوي چې د زړو کرنیزو ځمکو ډېرى برخه شاړه سي او په ځنګلونو واوړي. خو له دې سره سره د غمنو د پام وړ کرهنه سوې ده؛ ویل سوي چې دلته د ځمکو د خړوبولو ستونزه وه (فریر، پیکاک).

| کانالونه | د کلي نوم | د کلي د ملک یا «کدخدا» نوم | هغه قومونه چې د بزګرانو په منځ کې دي | د قلبو یا پګوګانو نومونه | | | د ۱۹۰۳ ــ ۴ کال پسرلنی حاصل | | د ۱۹۰۴ز کال د مني حاصلات | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | | | | | | | | | په کلي کې د ټول کرل سوي تخم مجموعه | | | | | |
| د کانال نوم چې کلی خړوبوي | | | | | | | د کرل سوي تخم وزن په سنګ خروار | | په سنګ من مقیاس | | | | | |
| | | | | د باغي تحویل | د غي یا تحویل جمع | کلګیري | غنم* | وربشي* | مالوچ (کلک) | مي (ماش) | ږدن او جوار | د کنجدو تېل | خټکي (پالیز) | په کلي کې د کورونو شمېر له هري طبقې |
| ۳ | ۴ | ۵ | ۶ | ۷ | ۸ | ۹ | ۱۰ | ۱۱ | ۱۲ | ۱۳ | ۱۴ | ۱۵ | ۱۶ | ۱۷ |
| تبابـهٔ قلعـهٔ فتح | | | | | | | | | | | | | | |
| دک دیله کانال | دیک دیله یا رستم خان | رستم خان | کبداني بلوخ، ګورګ یج بلوخ، ارباب زی، فارسي | ۴ | ۴ | ۱۰ | ۸٬۴ | ۱٬۶ | – | — | ۲۴ | — | ۱۷ | ۱۷۵ |
| عالم خان کانال | عالم خان | عالم خان | پورتني | ۱ | ۳ | ۲ | ۵٬۲۵ | ۱٬۵ | – | — | ۲۴ | — | ۶۵ | ۸۱ |
| مستي قلعهٔ فتح کانال | مستي خان یا د ابراهیم بارینګ | مستي خان | پورتني | ۱ | ۱ | — | ۲٬۶ | ٬۶۵ ۰ | — | ۱٬۵ | ۹ | — | ۲ | ۳۴ |
| قلعهٔ فتح کانال | میر آباد | ملا برفي | ارباب زی فارسي ، خان نشیني، خره کوهي، | ۱ | ۲ | ۱ | ۶٬۵۰ | ۱٬۵ | – | — | ۳۰ | ۳ | ۸ | ۴۰ |

| | | | | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| پورتنی | قلعه فتح | نور محمد ارباب | سرگل زي بلوڅ، بازي زي بلوڅ، ارباب زي فارسي | ۷ | ۵ | ۶ | ۱۶٬۰۰ | ۳٬۵ | – | – | ۴۰ | ۸ | ۲۶ | ۴۱۶ |
| پورتنی | غم بادِ يکدست | رحمت | پورتني | ۲ | ۲ | ۲ | ۵٬۵۵ | ۱٬۲ | – | – | – | – | – | ۶۰ |
| پورتنی | سبز گزي | جمن خان (جمعه خان – ژ) | پورتني | – | ۲ | ۱ | ۲٬۹۰ | ۰٬۵ | – | – | – | – | – | ۲۲ |
| د قلعه فتح ټول ټال | | | | ۱۰ | ۱۱ | ۹ | ۳۰٬۹۵ | ۶٬۷ | — | — | ۷۰ | ۱۱ | ۳۴ | ۵۳۸ |

په ۱۹۰۳ز کال کې قلعهٔ فتح کې ۲۵۰ کورونه ول او د وګړو شمېر ئې ۱۲۴۰ تنه وو.

دغهٔ کلي ۹۰۰ کورني خاروي، ۱۵۰۰ پسونه او وزې، ۲۵ آسونه او ۸۰ اوښان درلودل. دا کلی د چم ګاوند سيمي لري چې ۸۰ قلبې ځمکه کېږي او په منځني ډول د غلاتو ۳۵ خرواره حاصل لري.

دا د دولت د غلاتو د ټولولو او زېرمه کولو يو مرکز هم دی.

دلته د ۱۰۰ تنو خاصه دارانو ګارنيزيون هم سته.

دلته ګودرونه هم سته چې د اپريل او مي د مياشتو په استثناء پوري غاړه ورڅخه اوښتل شوني دي (ايس. ايم. ونليس ۱۹۰۳)

د ۱۹۰۵ز کال د دسمبر په مياشت کې محمد ايوب خان چې ددې سيمي حاکم وو کابل ته د نامعلوم دليل لپاره احضار سو. تر اوسه داسي معلومات نـهٔ لرو چې دې سيمي ته بل ځای ناستی رالېږل سوی که نه. (بومي معلومات، ۱۹۰۵)

په ۱۹۰۵ز کال کې د سيستان له مأموريت سره مل د اوبولګولو مأمور وارډ قلعهٔ فتح ته نـېږدې د «تبابو» يا د کليو د ډلو د ځانګرتياوو په هکله وايي: (د دوست محـمد، ميرک او ماشي کلي په دغې تبابې پوري اړه لري خو مشري ئـې د دوست محـمد تر مشرتابـهٔ لاندې ښودل سوې ده.) وګورئ پورتنی جدول.

**قلعهٔ ګز:** ۱ – ۳۲، ۴۷ – ۶۴: له خير آباده لږ پورته د هلمند د سيند پر ښی غاړې باندې يو کلی دی او ويل سوي دي چې د اسحاقزيو ۵۰ کورونه په کې استوګن دي. (صاحبداد خان)

**قلعهٔ هندو:** ۸ – ۳۰، ۲۵ – ۶۲: له رودباره ۱۰ مايله کوز د هلمند د سيند پر کيڼي غاړې باندې د يوې نسبتاً پراخې سيمي کنډوالي او وراني پرتې دي. (ميتلند)

**قلعهٔ ابراهيم آباد:** وګورئ: داد خدا

**قلعهٔ جان بيګ:** ۱۴ – ۳۰ ، ۱۱ – ۶۲: له رودباره ۲۴ مايله کښته د هلمند د سيند پر کيڼي غاړې باندې د يو شمـېـر کنډوالو او ورانو ويجاړو ځايونو نوم دی. دلته بنستيزه کنډواله يوه مربع ډوله استحکامي کلا ده چې تر لمر لاندې له پخو سويو خښتو څخه جوړه ده، ديوالونه ئـې په مقاوم ډول لا ولاړ دي. دې ځای خپل نوم د يوهٔ بلوڅي سردار جان



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليږلو مخکې په ځير و لولـئ

بیگ له نامـهٔ څخه اخیستی دی، نوموړی یو وخت د نورزیو له ډاره دې کلا کې پناه یا تحصن اخیستی وو. د کلا له ظاهري بڼې ښکاري چې دې کلا برجونه نـهٔ درلودل او کوم د یادونې وړ کار په کې نـهٔ دی سوی. (بیلو، میتلند)

**قلعـهٔ کال**: کال قلعه: ۳۸ ــ ۳۲، ۳۲ ــ ۶۲: له فراه څخه ۳۰ مایله پورته د فراه روډ پر غاړه د یوهٔ ځای نوم دی. گومان کېږي چې همدلته د سیند غاړې کې کوم گودر هم سته چې له سینده بله غاړه پرې څوک واوړي. (اې. بي. سي)

نوربیا

**قلعـهٔ کنگ**:

**یادونه:** قدرمنو لوستونکو! تاسو تر دغه لینک لاندی د ښاغلی آریا صاحب په آرشیف کی د لمړی ټوک ټولی او دوېم ټوک ټولي برخي لوستی شی.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاریٔ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینگه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزي بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولـئ